ع، وطندار　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　　۲۰۱۸/۱۱/۰۵

# د مولانا سمیع الحق د قتل تر شا

د پاکستان د زیاترو مذهبي ګوندونو تر شا استخباراتي اداري قرار لري په دې توګه ګورو چې دغه ګوندونه په ولس کې خپل هغه اعتبار چې باید ويي لري، نه لري؛ د بېلګې په توګه هغوی همېشه د پاکستان په قومي اسمبلی (ولسي جرګه) او سينټ (مشرانو جرګه) کې ډېر لږ حضور لري، د يوه لوی ګوند نه به ګورئ چې په ټول پاکستان چېرته يو، دوه يا دري کسه قومي اسمبلی ته کامياب شوي وي، حال دا چې سيکولر او ورپسې ملتپال ګوندونه زياتي کرسی ګټي؛ خو د سيکولرو ګوندونو پله درنوي، همدا دليل دی چې په پاکستان کې له نظامي حکومتونو پرته يا مسلم ليګ په واک کې وي يا پيپلز ګوند، حال دا چې پاکستان د اسلام په نوم جوړ شو، بايد ولس همېشه د مذهبي ګوندونو تر شا ولاړ وای؛ خو دوی خپل ځانونه او خپل حيثيت په ډېرو لږو امتيازاتو پلورلی دی. د مولانا فضل الرحمن خو دا حال دی چې په «ډيزل ملا» مشهور شوی، دا ټول د ده جرم دی چې د جمعيت العلمای اسلام په نامه يي سياست وکړ؛ خو په پاکستان کې يي د اسلامي نظام د راوستلو په لار کې يو مؤثر قدم هم وا نه خست، په افغانستان کې د جهاد اعلان کوي او په پاکستان کې وايي چې: «دلته خو آيين دی». که چېرې په پاکستان کې آيين دی ايا په افغانستان کې ځنګل دی او د ځنګله قانون چلېږي؟ ستا د لارډ ميکالي قانون، ستا په تعبير «آيين» دی او د افغانستان قانون هېڅ؛ خو وخت به راځي چې يوه ورځ مولانا هم له موده ولوېږي او چېرته به سړه خوله پروت وي او بيا به يي چاپلوسان او مداحان پرې بغارې وهي چې وای مولانا اوبيا به له هغه نه يو درواغجن قهرمان جوړوي.

دغسي حيثيت د مولانا سميع الحق هم و او بلکې د خپلو استخباراتو په غلامی کې يي سره مسابقه درلوده؛ خو هغه دی تېره جمعه (۱۳۹۷ د عقرب يوولسمه) په اسلام اباد کې په خپل کور کې په چاقو غيبي غيبي کړای شو او بيا ورته دا پرتوګ ورکول شو چې د هغه ډريور او ساتونکی، د پنځلس دقيقو له پاره بهر ته په شيدو پسي تللی و چې راغی که ګوري چې مولانا په وينو کې لت پت دی. زما په باور هر ځاځکی وينه چې په دا تېرو اوولسو کالو کې په افغانستان کې تويه شوې، سميع الحق او فضل الرحمن په کې شريکان دي. سميع الحق خو ووژل شو؛ خو د فضل الرحمن برخليک هم راته له هغه ډېر متفاوت نه ښکاري. خدای تعالی هر ظالم ته د يوه څه وخت له پاره فرصت ورکوي؛ خو بيا يي چې وخت را ورسېد بيا مجال نه ورکوي.

که چېرې سميع الحق او فضل الرحمن، طاهر اشرفي او د دوی په څېر نورو علماو خدای (ج) حاضر و ناظر



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و يا spineghar@gmail.com

ګټلی وای، هڅه به یې کړې وای چې په افغانستان کې دا د وینو لېښتي ودرېږي، که خبره د امریکایانو وي؛ نو د امریکا مرسته ملګرتیا خو پاکستان وکړه او همدا اوس هم لګیا دی کوي یې، امریکا په دا تېرو اوولسو کالو کې درې دېرش میلیارده ډالره مرسته د څه له پاره پاکستان ته ورکړه؛ خو د همدې له پاره چې پاکستان به په هر څه کې ورسره مرسته کوي، بې له شکه که د پاکستان مرسته نه وای، لومړی خو به افغانستان ته د امریکا راتګ له ستونزو خالي نه وای او دوهم به ورته دومره اوږد مهاله شتون اسانه نه وای، بیا د پاکستان هوایي ډګرونه له هغې جملې نه د شمسي، دالبندین او جیکب آباد یې د امریکا په اختیار کې ورکړل، دغسې د کراچۍ-تورخم ترانزیتي لار د امریکا په خدمت کې وه او لا هم ده؛ خو د پاکستان استخبارات پلوه علما دا هم یوه نه ګوري او همدا یوه خبره یې اورېدلې چې په افغانستان کې امریکایان دي.

دلته د دې خبرې کول اړین دي چې استخبارات له هیچا سره هم د ټول عمر له پاره اشنایي نه کوي، بس تر کومه یې چې ورته اړتیا وه، پالي یې او خپل پېټي پرې وړي بیا یې چې موخه سر ته ورسېده د مرګ پر خوب یې ویده کړي. د مولانا سمیع الحق مرګ همدغسې ده. دلته څو احتماله کېدای شي:

۱- کېدای شي چې بالاخره په یوه نسبتاً ضعیف احتمال د هغه مړ ضمیر را ویښ شوی او خپل آخرت ته متوجه شوی وي او نور به یې د خپلو استخباراتو د بار وړلو ته اراده نه وه.

۲-کېدای شي هغه هم لکه جنرال عبدالرازق د یوې استخباراتي لوبې قرباني شوی وي؛ ځکه چې اوس د امریکا له خوا د سولې په نامه د طالبانو د نظامي حذف یوه پروژه په جریان کې ده، کېدای شي یو شمېر له کاره لوېدلي طالب مشران راولي او د افغانستان له حکومت سره یې غاړه کړي او هغه جنګیالی قشر یې له داعش سره غاړه کړي؛ ځکه امریکا د جنګ له لارې طالب د داعش پر وړاندې په ګونډو نه کړای شو؛ نو اوس به ورته بله لار لټوي او هغه فقط همدا کېدای شي چې د سولې د هلو ځلو په نامه یې له پښو وغورځوي؛ وکتل شي چې طالب په دې لوبه کې څومره خپل استقلال او خپل نظامي حضور لا هم ساتلی شي؛ نو د مولانا سمیع الحق مرګ به هم په دې لار کې امریکا ته د پاکستان له لوري یوه تحفه وي؛ ځکه د پاکستان ټولې هلې ځلې دا دي چې ځان له هغو فشارونو نه خلاص کړي چې ورته متوجه دي. پاکستان دا مهال له اقتصادي او سیاسي پلوه تر ډېرو فشارونو لاندې دی او دا فشارونه ورځ تر بلې زیاتېږي؛ نو پاکستان، د امریکا لا زیاتو اقتصادي اړتیا لري او له سیاسي انزوا نه وتلو ته هم اړ دی، که څه هم پاکستان لا د انزوا هغې کچې ته نه دی رسېدلی چې له خپلو اوسنیو سیاستونو نه لاس واخلي.

د پاکستان د استخباراتي ځرو په لاسو د سمیع الحق مولانا وژل کېدل د پاکستاني استخباراتو په لاسو دغه ډول نه لومړنی قتل دی او نه وروستنی؛ ځکه لکه په دا اوسنۍ لوبه کې به یواځې د مولانا سمیع الحق قتل کافي نه وي. امریکا به له پاکستانه نور امتیازات هم غواړي، لکه چې د سمیع الحق له قتل سره جوخت د جنرال حمید ګل پر زوی هم قاتلانه حمله شوې، ښایي د پاکستان نظامي استخبارات دغه ډول کسان یو په بل پسې له مخې لرې کړي. عجیبه دا ده چې پاکستاني استخبارات له یوې خوا غواړي، د جنرال عبدالرازق د شهادت هنګامه څه نا څه سره

کړي او له بلې خوا له امریکا نه د زیاتو امتیازاتو اخستلو ته لاره اواره کړي؛ خو د خپلو ځرو په وسیله یې دا تبلیغات پیل کړي دي چې ګواکې د مولانا سمیع الحق په قتل کې د افغانستان د استخباراتو لاس دی؛ خو د افغانستان استخبارات نه دا امکانات لري، نه ورته ضرورت لري؛ ځکه د مولانا له قتل نه خواوشا دوه اوونۍ د مخه د افغانستان د سولې د عالي شورا یو پلاوی پاکستان ته تللی و او د مولانا په شمول یې له یو شمېر علماو سره د سولې په اړه خبرې کړې وې او دا باور یې ورکړی و چې موږ غواړو ستا (سمیع الحق) په وساطت او ان چې ستا په حقانیه مدرسه کې له طالبانو سره وګورو. په دغه ناسته کې چې له مولانا سره کوم استدلال شوی و، هغه یې د رد له پاره هېڅ دلیل نه و وړاندې کړی او بلکې هغه چې کوم اعتراض درلود افغان پلاوي د هغه معقول ځواب ویلی و؛ نو پر دې اساس دا خبره هېڅ منطق نه لري او دا د مولانا اشرفي اوتې بوتې دي چې اوس غواړي هغه د خپلو استخباراتو د لوډسپیکر نقش ولوبوي؛ خو زه د پاکستان ټولو هغو علماو ته چې دا ډول فکر لري وایم چې خپل عاقبت ته هم ځیر شي، د سمیع الحق وژنه ټولو ته باید د عبرت درس شي.

پای